

# سیاست او سیاسي موخې

**نورمحمد غفوري**

انسان د ژوندي او ټولنیز موجود په حیث د بشري ټولني په د ننه کې د ټاکلو اړیکو په جال کې ژوند کوي چې ځیني یې د زیږیدو او لوئیدو د محل، شرایطو او اوضاع له لوری ورباندي تپل شوی او بدلون یې تر ډیرې اندازې د فرد له واکه وتلی کار دی او یا خو د هغه چاپیریال د خلکو جمعی ارادې او فعالیت ته اړتیا لري. خو انسان کولای شی چې د ځینو نورو اړیکو په بدلون، نوښت او پریکوڼ کې د خپلې ارادې سره سمه برخه واخلي او یا یې پخپل زړه انتخاب او جوړې کړي. پوهانو دا ټولنیزې اړیکې چې په ټولنه کې د انسانانو تر منځ شتون لري، په غوره ډول په سیاسی، ټولنیزو، کلتوری او اقتصادی برخو ویشلي چې سیاسي برخه یې په لوړه سطحه او پیچلې اړیکې دي. سیاسي هدفونه ټولې هغه موخې په بر کې نیسي چې د سیاسي اړیکو په ډګر کې د هغو له پاره هاند او هڅې کیږي.

د جامعې د اړیکو سیاسي ډګر لکه چې له نامه څخه یې ښکاري له سیاست سره پیوند لري. د سیاست له پاره پوهانو په ډیر شمیر او رنګ، رنګ (تقریبا ۲۰۰) تعریفونه وړاندې کړي. سیاسي هدفونه هم د همدې تعریفونو په رڼا کې څیړل کیدای شي.

څرنګه چې د هغومره ډیرو تعریفونو څیړل په یوه لیکنه کې نه په زړه پورې، نه لازم او نه اړین دی؛ نو د سیاسی علومو پوهانو دا په دریو غوره ګروپو او مهمو کتګوریو ویشلي دي:

**لومړی:** د سیاست هغه تعریفونه دي چې سیاست له ځواک سره تړلی او د (قدرت علم) بولی. دا تعریف له ډیر پخوانه د سیاست له پاره په نظر کې نیول شوی. ددې تعریف پر اساس سیاسي هدفونه د سیاسي قدرت د ترلاسه کولو او د هغو د ساتلو لارې چارې او میتودونه دي. یا په یوه جمله کې ویلای شو چې سیاسی هدف د سیاسی قدرت تر لاسه کول، ساتل او په هغو کې د ځان شریکول دي.

**دوهم:** د سیاست هغه تعریفونه دی چې (سیاست د دولت) علم بولي. ددې کتګوري تعریفونو پربنسټ سیاست د دولتی چارو څیړل او تر بحث لاندې نیول دي چې په رڼا کې یې سیاسي هدفونه د دولتی چارو د سمون او اغیزمنتیا له پاره هر ډول هڅې او کوښښونه جوړوی.

**دریم:** د سیاست هغه نور ډول، ډول تعریفونه چې د پاسنیو دوو کتګوریو څخه د باندې مطرح شوي، خو په یو شکل نه یو شکل له پاسنیو کتګوریو سره اړیکه نیسي. ځیني سیاست پوهان وایی چې سیاست هغه علم دی چې موږته راښئي چې څوک بریالیتوب تر لاسه کوي، څه وخت یې تر لاسه کوي ولې او څنګه بریالیتوب ته رسیږي؟ په دې صورت کې سیاسی هدفونه هم په سیاسي لوبو کې د وړلو د وخت پیژندلو، علت او روشونو زده کړه ده.

د آلمان ستر ټولنپیژندونکي (ماکس ویبر) بیا سیاست هغه شغل او هڅې بولي چې د سیاسی قدرت د ترلاسه کولو او په نورو باندې د نفوذ د عملي کولو له پاره سرته رسیږي. دلته سیاسي هدفونه د قدرت

تر لاسه کول او يا په مختلفو (ولسواليو، ولايتي او يا هيوادنيو) سطحو کې په سياسي ځواک کې د ځان شريکول دي.

د ټولني مختلف افراد د سياسي ځواک د ترلاسه کولو او په هغو کې د شريکولو له پاره يو له بله متفاوتي انګيزې لري. ځينی غواړي چې سياسي قدرت ددې له پاره تر لاسه کړي چې هغه د ولسونو د خدمت او د وطن د سمسورتيا له پاره په کار واچوي. ځيني نور بيا سياسی قدرت د شخصی هدفونو د ترلاسه کولو- د خلکو تر لاس او فشارلاندي ساتلو، د شخصی شتمنيو زياتولو، د عيش او عشرت له پاره د شرايطو برابرولو، د ځمکو د غصبولو، د بلډنګونو د لوړولو او د خپلو جيبونو او بانکی حسابونو د پړسولو وسيله بولی او غواړي چې له دې لارې د وسلو، پيسو او احترام څښتن شي. ځيني بيا هسې د قدرت د نيولو ليوال وی او هدف يې د ځان ښودنه او د رقيبانو ناکامي وی او له دې څخه لذت او خوند اخلي.

په مجموع کې ويلای شو چې ټول هغه کوښښونه، چلندونه او روشونه چې د ټولنيز يوځايي ژوندانه د تنظيم او سمون له پاره په پريکړو کې د برخي اخيستو او د دولتي ميکانيزمونو د اداره کولو له پاره سرته رسيږي، سياست دی. سياست د ټولنيزو ګروپونو رهنمايي کول او د سياسي قدرت د استعمال له لارې مطلوب لوري ته د ټولني بوول دي. سياست د سياسي ځواک د ارګانونو د مختلفو پوړونو ترمنځ د اړيکو تنظيم او له هغو سره د ولسونو د مناسباتو ټاکل دي. سياست د ښه حقوقی نظم رامنځته کول او د سولې، آزادی، برابری، وروروليی او عدالت پلي کول دي. سياست ټول هغه فعاليتونه په غيږ کې نيسي چې د ټولنيزو ستونزو د حلولو، د ټول ملت د هوسايني او د ټول هيواد د ښيګڼو له پاره کارول کيږي. سياست د ټولني په ټولو برخو او پوړيو کې د مختلفو طبقو او قشرونو ترمنځ د موجودو او مسلطو مناسباتو د ساتلو يا تغير او ښيګڼي له پاره هڅې او هاند دی. دا هڅې او کوښښونه د هيواد په دننه کې د مختلفو ټولنيزو ګروپو او طبقو  د ګټو او علايقو ترمنځ کشمکشونه او ټکرونه او د هغو د حل له پاره د لارو چارو موندل هم په غيږکې نيسي.

هغه څوک چې د سياست ډګر ته را وړاندې کيږی، لازمه ده چې د خپلو ګټو په پيژندلو، د علايقو په تشخيص او د هدفونوپه روښانه کولو کې زيار وباسي. هغه کسان، سياسي سازمانونه اوګوندونه چې په هيوادنی او بهرنی کچه يې خپلې سياسي موخې په روښانه ډول نه وی تشخيص او فورمول بندي کړې، د هدف په لور د تلو آسانه، نږدې او کم مصرفه لاريې نه وې معلومه کړې؛ د سياست په پراخه ګرداب کې د سختو غوټو سره سره بريالیتوب ته نه شي رسيدای. په نورو عباراتو ويلای شو چې يوه شخص او سياسی ډلې ته لازمه ده چې خپل د اوږدې مودې غايي او ستراتيژيک سياسی هدفونه ښه وپيژنی، د همدغو ستراتيژيکو اساسي هدفونو په رڼا کې د هرې انتخاباتی دورې له پاره د ولس د ميني او علاقې وړ د منځنی مودې (متوسط المدت) پلانونه او عملی پروګرامونه را وباسي او د هر کال او ټاکلي پيښې په وړاندې د لنډې مودې او ورځې مهم شعارونه تشخيص او خلکوته وړاندې کړي. يوازې د اوږدې، منځنی او لنډې مودې د پلانونو، شعارونو او پروګرامونو په وړاندې کولو سره ګوند کولای شی چې د خلکو ترمنځ د ژوندي او فعال ارګانيسم په حيث تبارز وکړي او د پرګنو سره په دوامدار تماس کې خپل حيثيت او اعتبار لوړ وساتي. د سياسي ګوند له پاره يوازې د اوږدې مودې د ستراتيژيکو هدفونو تدوين او ملت ته وړاندې کول د بريالیتوب داېمنه وسيله نه شی ګرځيدای. د ګوند د اوږدې مودې په غايي او ستراتيژيک مرام کې ټولې اساسي غوښتني په لنډه او نسبتا مجرده بڼه تدوين او د ملي منافعو په چوکاټ کې د هغو ټولنيزو طبقو او ګروپونو ګټي تسجيل کيږي چې ګوند يې د دفاع او ساتلو له پاره ځان ژمن بولی.

خو د زماني په اوږدو کې د شرايطو له بدلون سره سم د همدې اساسی اهدافو د تطبيق او د په نظر کې نيول شوو ټولنيزو ګروپونو او طبقاتو د ګټو د ساتلو له پاره د انتخاباتو په هره دوره کې د جمهوري رياست، ولسی شورا، ولايتی شوراګانو او ولسوالي شوراګانو د چوکيو د ترلاسه کولو له پاره په هره سطحه د داسې موخو، پاليسيو او تکتيکونو ټاکلو او ملت ته وړاندې کولو ته اړتيا ده چې په معينو شرايطو او ټاکلي ټولنيز، اقتصادی او کلتوری حالت کې د ګوند له پاره بريا تضمين کړي.

داخبره هم د يادولو وړ ده چې سياسی فعاليتونه د سياسی موخو د ترلاسه کولو له پاره کيږي او دا بيا د ټولنيزو فعاليتونو سره توپير لري. سياسی ګوند يو محدود ټولنيز محلی عام المنفعه سازمان نه دی چې په وعظ، نصيحت او په معين محل کې د خيريه پروژو په سرته رسولو اکتفأ وکړی؛ بلکې هر سياسی ګوند د دولتی چارو په سمون کې د پراخه ونډې اخيستو او امکاناتو د ترلاسه کولو په خاطر د سياسی ځواک د ترلاسه کولو او د واک په مختلفو سطحو کې د ګډون له پاره زيار باسي. سياسی ګوند کال پر کال او د انتخاباتو په هر دوران کې خپل فعاليتونه ارزوی او خپل برياليتوبونه پر ګوته کوي. بريالي سياسي ګوندونه هغه دي چې په هر کال او هره انتخاباتی دوره کې په دولتی واک کې د ګډون زيات امکان تر لاسه کړي او په ملت کې د خپلو پلويانو اندازه ډيره کړي. هغه ګوندونه چې د خپلې سياسي بوختيا او د غړو له ستړيا سره سره د سياسي ځواک په مختلفو سطحو کې د ګډون په اړه پرمختګونه ونه لري، په تدريج سره د ولسونو ترمنځ خپل اعتبار جګ نه کړي او د رايو سلنه يې زياته نه شي؛ ناکام ګوندونه دی چې بايد د خپل فعاليت او رهبرئ په روشونو او ميکانيزمونو کې بدلون راولي. همدا علت دی چې دموکراتيک ګوندونه د هرې انتخاباتی دورې په پای کې پخپلو فعاليتونو د سره نظر کوي. که ګوند د پرمختګ په حال کې وي، نو د فعاليت همغه تر کار لاندې اساسی روشونه پراخوي او د موجودې رهبرئ کادرونه (او يا په کم تغير او تکميل سره) د راتلونکې مودې له پاره هم په کار ګماري. خو که ګوند په کومه انتخاباتی دوره کې د پرمختګ په حال کې نه وی او په دولتی ځواک کې يې برخه نه وي زياته شوې، د ولس ترمنځ يې اوتوريته او حيثيت لوړ نه وي تللی، د رايو فيصدی يې نه وي جګه شوې، د ګوند په غړو کې د کار او فعاليت انګيزه او علاقه کمه وي؛ نو ګوند د خپل فعاليت په روشونو او د رهبرئ په ميتودونو کې بدلون راولي، د نوو رهبري کادرونو د کار او ابتکار له پاره لاره خلاصوي او ولسونو ته د رهبرئ نوي بديلونه وړاندې کوي. که ګوندونه وخت په وخت د خپل فعاليت په معمولو طريقو کې بدلون را نه ولي، د پخوانيو يو ډوله (يکنواخته)، بې نتيجو او ناکامو روشونو په پايله کې يې غړی له فعاليته لويږی، نا اميده او مأيوسه کيږي او د ګوند او ګوندياتو د فعاليت مثمريت او موءلديت کميږي. بايد په ياد ولرو چې د ګوندي فعاليت د هرې نوې طريقی د عملي کولو له پاره نويو ابتکارونو او نويو رهبري څېرو ته هم اړتياده.

(پای)